# د پښتونخوا د حکومت
# د جېلونو د وزارت کارکردګي

اداره

د جېل خانه جاتو وزارت د جېلونو په اصلاحي ادارو کښې د بدلولو دپاره ګټور ګامونه پورته کړي دي. په دې غرض چې کوم اقدامات تر اوسه شوي دي د هغې تفصيل څۀ په دې ډول دے:

- په جېلونو کښې د سکولونو جوړول چې تر لسم جماعت پورې وي. په ټولو جېلونو کښې د سکولونو جوړولو منصوبه د وزارت تعليم زېر غور ده.
- په جېلونو کښې ټېکنيکل وکېشنل سنټرونه قائمول چې د انډسټري ډيپارټمنټ د لاندې به وي. د دې دپاره د انډسټريز سېکرټري ته خواست شوے دے. په دې حقله د جېلونو فزيبيلټي سټډي شوې ده. NAVTEC نېشنل وکېشنل اينډ ټکنيکل ايجوکېشن ته خواست شوے دے چې د صوبې په ټولو جېلونو کښې خپل سنټرونه پرانزي. د دغې ادارې غړو د پېښور جېل دوره کړې ده او په دې رضا شوي دي چې دلته خپل يو سنټر په تجرباتي بنيادونو شروع کړي چې پکښې به ائير کنډيشنګ، اليکټريکل، مېسنري، ټېلرنګ، د موټر سائيکل او اليکټرک جنرېټر د جوړولو مهارت ورکولے شي. ښځو قېديانو ته به د درزي توب، ايمبرائيډري او بنړونو جوړولو هنر ښودلے شي. دا اداره په دې هم رضا شوې ده چې پېښور جېل کښې د قالين او د کپړو کارخانه سردوباره چالو کړي.
- هوم ډيپارټمنټ ته خواست شوے دے چې د پوليس ډيپارټمنټ، پېښور هائي کورټ، جېل خانه جاتو د محکمې او لاء ډيپارټمنټ يو شريک اجلاس راوبلي چې په کرمنل جسټس سسټم کښې د اصلاحاتو کولو دپاره تجاويز وړکړي.



- په بنو او پېښور جېل کښې د بورسټل انسټي ټيوشن قائمول: په بنو جېل کښې بورسټل انسټي ټيوشن قائم شوے دے چې ډېر زر به کار شروع کړي. دغسې په هري پور جېل کښې به د دې انسټي ټيوشن په جوړولو زر لاس پورې کړې شي خو چې د فنانس ډيپارټمنټ نه فنډ ملاو شي. پېښور کښې د نوي جېل جوړولو سره به په بورسټل انسټي ټيوشن باندې هم کار شروع کړے شي.

• په جېلونو کښې ورې کارخانې لګول: سېکرټري انډسټریز ته خواست شوے دے چې د صوبې د جېلونو معائنه وکړي او په دې کښې دې ورې ورې فېکټرۍ قائمې کړي چې ترې نه به قېدیانو او ملک دواړو ته فائده وي. دغلته چې کوم قېدیان کار کوي نو هغوي به هنر زده کوي چې د هغوي به آئنده ژوند کښې پکار راځي. دغسې دوي له به د دوي د جوړو کړو مصنوعاتو د خرڅ نه د حاصلې شوې ګټې څۀ برخه هم ورکولې شي. د دې غرض دپاره به د جېل خانو په قانون کښې ترمیم کولے شي. دې سره به د صوبې آمدن هم زیاتېږي.

• په کال ۹-۲۰۰۸ کښې صوبائي حکومت د جېل خانې وزارت ته -/ ۵۹،۷۸۸۸۰ روپۍ په مختلفو جېلونو او حوالاتونو کښې د پکو لګولو، د اوبو د ټېنکو لګولو، د الیکټرک واټر کولرو او د بجلۍ د جنرېټرو دپاره منظورې کړې دي.

• په ۹-۲۰۰۸ کښې د جېل خانه جاتو وزارت مختلف دوه ځلوېښت پوسټونه راایستلي دي چې پکښې د ۱۸ ګرېډ نه واخله تر ګرېډ ۱ پورې پوسټونه شامل دي.

• ترقیاتي پراجېکټونه: د وزارت جېل خانه جات لاندیني ترقیاتي سکیمونه په اې ډي پي کښې شامل شوي دي:

• د پېښور جېل فزیبیلټي سټډي، پلاننګ، ډیزائننګ منظور شوے دے.

• د ډېره اسماعیل خان جېل د جوړولو منظوري شوې ده.

• په اپر دیر کښې د ډسټرکټ جېل جوړولو منظوري شوې ده.

• د صوابۍ د ډسټرکټ جېل جوړولو منظوري شوې ده.

• د صوبې د ځنو جېلونو د ښۀ کولو منظوري هم ورکړې شوې ده.

• د هنګو د ډسټرکټ جېل جوړولو منظوري شوې ده.

• د دې سکیمونو نه علاوه د لکي مروت جېل مکمل شوے دے. دغسې د صوبې د مختلفو جېلونو د جوړولو او ښۀ کولو منصوبې د ۱۰-۲۰۰۹ په اې ډي پي کښې شاملې دي. په دې سکیمونو کښې د صوابۍ جېل او دیر جېل دپاره د زمکې حاصلولو کار روان دے او د مردان جېل کښې تعمیراتي کار شروع شوے دے.

• د جېلونو د ډسپنسر، په ملازمتي ډانچه کښې بدلون راوستل: په کال ۹-۲۰۰۸ کښې صوبائي حکومت د ګرېډ ٦ ډسپنسرانو ځلوېښت پوسټونه اپ ګرېډ کړي دي دغسې یو پوسټ د لېبارټري اسسټنټ ګرېډ ٥ نه تر ګرېډ ۹.

• د جېل خانه جاتو په رول ۱٤٤ کښې بدلون راوستے شوے دے. کوم چې د قېدیانو په شارټ پېرول د رها کولو متعلق دے.

• پېښور جېل کښې د قېدیانو د خپلو خپلوانو سره د ملاقات سسټم کمپیوټرائزډ کول، د دې غرض دپاره -/ ۱۰۰۷۱۵۰ روپۍ خرچ کړې شوې دي.

• محکمه جېل خانه جات مختلف پوسټونه اپ ګرېډ کړي دي لکه اسسټنټ سپرنټنډنټ د ګرېډ ۱٤ نه په ګرېډ ۱٦ کښې، ډپټي سپرنټنډنټ د ګرېډ ۱٦ نه په ګرېډ ۱۷ کښې اپ ګرېډ کړي دي. ډېر زر به دې لړ کښې نوټیفیکېشن جاري کړے شي.

• صوبائي حکومت د صوبې د ټولو جېلونو د قېديانو د صحت د خيال ساتلو او د دوايانو دپاره -/ ۳۸۲۰۰۰۰ روپۍ منظورې کړې دي. دغسې د روان کال ۱۰-۲۰۰۹ دپاره -/۱۰۰۲،۸۵۵۰۰ روپۍ منظورې کړې شوې دي.

• د ټولې صوبې په جېلونو کښې د قېديانو د خوراک څښاک د ښۀ کولو او د پنجاب د جېلونو د خوراک سره د يو شان کولو دپاره هم ګټور ګامونه اخستي شوي دي. په دې غرض په رولز کښې د ترميماتو دپاره يو رپورټ هوم ډيپارټمنټ ته لېږلے شوے دے چې هغوي ئې وزير اعلي ته د منظورۍ دپاره وړاندې کړي. د جېل خانه جاتو محکمې د وردۍ په الاؤنس کښې اضافه کړې ده. دغسې ئې د قېديانو او حوالاتيانو په خوراک څښاک کښې هم اضافه کړې ده.



• د پښتونخوا صوبې د جېل خانه جاتو وزارت د جېل په قوانينو ۱۹۷۸ کښې لاندينې ترميمونه هم تجويز کړي دي:

• د قېديانو امدادي تنظيمونو له دې د خپل خصوصي فنډ نه د صوبې په هر جېل کښې د قېديانو د سهولت دپاره د ناستې ځايونه جوړ کړي چې د w په شکل وي.

• د حاملو ښځو او ماشومانو دپاره خوراک.

• داسې قېديان چې غابنونه ئې نۀ وي يا په روټۍ مېده کولو کښې ورته مشکلات وي نو په قانون کښې د هغې دپاره ترميم پکار دے چې هغوي له سپېشل خوراک ورکړے شي په ځائے د دې چې هغوي د جېل حاکمانو ته د دې خاص رعايت دپاره خواستونه کوي.

• جېلونو له دې زنانه استاذانې او لېډي هېلته وزيټرې په ترجيحي بنيادونو ورکړے شي او د دوي د پوستونو پېدا کولو دپاره دې سمدستي کېس تيار کړے شي چې راروان بجټ ۲۰۰۹-۱۰ کښې شامل کړے شي.

• د قېديانو جامې او بسترې دې هفته کښې يو ځل نمر ته غوړولې شي.

• د جېل سپرنټنډنټان دې د ټي بي، زيړې، ايډز او کېنسر د مريضانو کېسونه سمدستي د تازه مېډيکل رپورټونو سره عدالت ته د ضمانت دپاره استوي.

• په جېلونو کښې دې د مختلف قسمه مېډيکل ټسټونو کولو بندوبست وکړے شي.

• حفاظتي انتظامات دې په ۷۲۳ قانون کښې شامل کړے شي. جېل خانو کښې دې د حفاظتي انتظاماتو دپاره کوټلي ګامونه پورته کړے شي لکه جېمر کوټ رومونه، واک تهرو ګېټ، مېټل ډيټکټر او د هغې ماهر کسان دې ورکړے شي. هر يو سنټرل جېل دې د ډسټرکټ جېل نه سخت ترين حفاظت کونکے جېل وګرځولے شي او سخت حفاظتي بارکونه دې جوړ کړے شي.

• زيات حفاظت کونکي قېديان په جېلونو کښې بيل ساتل او هغه علاقه کښې موبائل جېمر لګول، عمومي بارکونه د هغوي د بارکونو نه لرې ساتل، د صوبې د موجوده صورت حال پېش نظر زياتو

سنگینو جرمونو کښې ککړ کسان د بالا حصار زړې جېل خانې ته منتقلول.

- مېتهل ډيټکټر د جېل دننه بارکونو کښې د موبائل، وسلې او ممنوعو څيزونو په لټې کولو کښې امداد کولے شي.
- د خطرناکو مجرمانو او فرقه واريت کښې د ککړو کسانو دپاره دې صوبه کښې يو جدا جېل جوړ کړے شي.
- په هر جېل کښې د څۀ ناخوشگوارې واقعې سره د مخامخ کېدو دپاره فنگرز پرنټ مشين، د ربړ گولۍ، بلټ پروف جېکټونه، اوښکې راوستونکے گېس او د نورو ضروري شيانو انتظام کول.
- د قېديانو د تېښتې د مخنيوي دپاره کېمرې او نورې آلې لگول.
- په جېلونو کښې د دهشت گردو خصوصي پېژندگلو پکار ده.
- د وارډرانو د تقررۍ، بدلۍ او پروموشن دپاره په قانون ۱۱۲۹ کښې تبديلي کول. د افسرانو او د جېل نورو اهلکارو له ټرېننگ لازمي کول او هغه د ترقۍ سره تړل.
- د جېل د سپرنټنډنټ د خصوصي اختياراتو د قابو کولو دپاره قېدي له حق ورکول پکار دي چې هغه د لويې سزا خلاف انسپکټر جېل خانه جات ته اپيل کولے شي.
- د غېر ملکيانو په قانون ۶۵-۶۶ کښې ترميم پکار دے. دا خبره معلومه شوې ده چې اکثرو جېلونو کښې مختلف غېر ملکي قېديان د خپلو ملکونو د ټکټ نۀ اخستو له وجې بنديوان دي. د جېل محکمه دې وزارت داخله ته د دوي تفصيل ورکوي چې هغوي د دغې قېديانو د قونصل خانو سره رابطه کوي.
- يو جدا جېل دې پنډۍ يا اسلام اباد کښې د غېر ملکي قېديانو دپاره جوړ کړے شي چې د دوي معاملې د قونصل خانو په ذريعه سمدستي حل کېدے شي.
- صوبائي حکومت په ۱۹۸۵ کښې اسسټنټ انسپکټر جېل خانه جات صرف يوه د گرېډ ۱۹ اسامي منظوره کړې ده، له دې علاوه ئې د سټاف په شمېر کښې اضافه نۀ ده کړې باوجود د دې چې په جېلونو او قېديانو کښې اضافه شوې ده. دغه وجه ده چې موجوده سټاف ډېر کم دے او دفتري کار ډېر خراب روان دے.
- د عدالتي معاملو دپاره يو لاء افسر ضروري دے.
- د تعميراتي کار د بهترۍ دپاره د يو ډپټي ډائريکټر ورکس گرېډ ۱۸ منظوري ورکول پکار دي.
- د انسپکټر جنرل د مرستې دپاره د پي اېس او د آسامۍ منظوري پکار ده.
- پښتونخوا صوبه کښې دا وخت ۲۲ جېلونه او حوالاتونه دي. دا د وخت ضرورت دے چې د کمپيوټر اپرېټر د اوويشتو پوسټونو منظوري ورکړې شي. يوه آسامي د هر جېل دپاره او پينځۀ اسامۍ د انسپکټر جنرل جېل خانه جات د دفتر دپاره.
- څو پروفېسران، سکالران، د سائکالوجي ډيپارټمنټ طالب علمان او ريټائرډ افسران دې راوغوښتلے شي چې هغوي د جېل د مېنول مطالعه وکړي او د قېديانو د خېر ښېگړې دپاره تجويزونه ورکړي.
- د معمولي نوعيت مقدمې زر تر زره ختمول.

- موجوده میډیکل فنډ کښې ځلور چنده اضافه کول.
- د قېدیانو د راشن دپاره بجټ کښې شل فیصده زیاتے کول.
- د جېل د لائبرېرۍ دپاره د کتابونو اخستو په غرض خصوصي فنډ ورکول.
- ټولو جېلونو خصوصاً سنټرل جېل پېښور او ډېره اسماعیل خان کښې د مرمت دپاره فنډ مختص کول.
- ډسټرکټ جېل کوهاټ له د سنټرل جېل سهولیات ورکول.
- د جېل د سپائي تنخواه او د راشن سبسډي د پولیس د کانسټېبل سره یو شان کول.